محمد داؤد مومند

۲۰۱۶/۰۴/۰۳

# پاکستان مرده باد

په هغه مهال چې انګریزان د هندوستان په نیم قاره کی مسلط وو او د هندوستان ټول ولس، که هندو وو که مسلمان، د خپلی آزادئ د پاره مبارزه کوله. د هندوستان د هغه وخت د نیم قاری مسلمان مفکر علامه داکتر اقبال د یوه مستقل اسلامی هیواد د تشکل نظر وړاندی کړ. د علامه اقبال د فکری تومنی او قوام، په عمده توګه، د افغانستان د سیاسی، علمی او روحانی مفکرانو او شخصیتونو د تفکراتو څخه د الهام اخستنې په واسطه، وده کوی.

داکتر اقبال د مصری لوی مجتهد شیخ محمد عبده په څیر د حضرت علامه جمال الدین افغان د نړیوال اسلامی، استعماری او استبدادی ضد نهضت د تفکر حامی او پیرو و.

داکتر اقبال د « خودی » په فلسفه کی د خوشحال بابا د نظریاتو او تفکراتو نه متأثر ښکاری، چنانکه مرحوم استاد عبد الجلیل وجدی یی د خوشحال بابا شاګرد بولی.

همدا راز داکتر اقبال په څرګنده د تصوت او عرفان په برخه کی د حضرت مولانا جلال الدین محمد بلخی د اندیشی او سلوک، لیوال و.

د حضرت سید جمال الدین افغان د سیاسی تحرک بنیاد د اسلامی ټولنی د ویښتوب، وحدت، د استبدادی حکومتونو او رژیمونو او د استعمار پر ضد د آزادی خواهی او استقلال د پاره د مبارزی پر بنسټ ولاړه و او پدی برخه کی یی حدود او ثغور نه پیژندل. داکتر اقبال د اسلامی نړئ د وحدت نظریی ته په خپل شعر کی داسی اشاره کوي:

قلب ما از هند و روم و شام نیست
مرز و بوم ما به جز اسلام نیست

داکتر اقبال په خپله اسلامی نړیواله ترانه کی چې په اوردو ژبه لیکل شوی داسی وایی:

چین و عرب همارا
هندوستان همارا
مسلم هی، هین اخوت
سارا جهان همارا

مسلمانانو د هندوستان په نیم قاره کی د یوه اقلیت په توګه، د هندوانو له اکثریت سره خورا ستونزی درلودی، د ستر احمد شاه بابا د هند د فتوحاتو په برخه کی د مسلمانانو د مظلومیت او محکومیت د خلاصون ټکی او احمد شاه بابا ته د هند د مسلمانانو د مشرانو د تظلم او داد خواهی عرایض د هیرولو وړ ندی. پدی مورد کی ښاغلی استاد سیستانی یوه مقاله لری چې متأسفانه زما څخه یی د مقالی عنوان هیر شوی دی.

داکتر اقبال د همداسی تفکراتو او اندیښنو د اغیزی لاندی د یوه اسلامی هیواد د تشکل نظر وړاندی کړ چې د هغه د وفات نه لس کاله وروسته په ۱۹۴۷کی د پاکستان د مبتذل نوم لاندی یو هیواد، د نړئ د هیوادونو په قطار کی ځای وموند. د هندوستان لوی علمی او سیاسی شخصیت حضرت مولانا ابوالکلام آزاد، د کانګرس د ګوند په سیاسی رهبرانو کی یواځنی شخصیت و چې تر آخره پوری د پاکستان په نامه د یوه هیواد د تشکل او هندوستان د تجزیه مخالف و، مولانا آزاد حتا د «پاکستان» د نوم سره خپل حساسیت څرګند کړ او وي ویل چې د دی نوم معنا داسی ده چې ګوندی نور هیوادونه (ناپاکه) دی.

د افغانستان دولت یواځنی هیواد و چې د ملګرو ملتونو په غونډه کی یی د پاکستان د موجودیت په خلاف رأی ورکړه چې دا خبره د پاکستان په سیاسی تاریخ کی د افغانستان د بد نیت په ارتباط د ناسور د زخم حیثیت لری.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دلته دا خبره خورا په زړه پوری ده چې د هغو نظرياتو پر بنسټ چې د محمد نادر خان او د هغه د کورنۍ ټول غړی د انګريزانو سره په ښکاره ارتباطاتو متهم دی، څنګه او په کوم جرءت د انګريز د لوی او ستر قوت د ښکاره او لوی نړيوال پلان چې د پاکستان د دولت تشکل و، سره په څرګنده داسی مخالفت وکړی چې حتا په نړيواله ټولنه کی د يواځنی هيواد په توګه د پاکستان پر خلاف مخالفه رأی ورکړی چې زما په نظر کوم سياسی معقوليت يی هم نه درلود .

پاکستان تر ډيرو کلونو پوری د «دو منيون» په نامه ياديده چې په سياسی لغوی مفهوم د حاکميت، سلطی، قلمرو او فرمان روايی ته وايی، ولی په سياسی او حقوقی لحاظ يی له برتانيی نه خپلواک شوی هيوادونو ته وايی، خو د برتانيی ملکه يا پاچا يی د دولت مشر يا په انګريزی اصطلاح يی هيد آف ستيت وی.
دلته د تذکر وړ خبره ده چې وويل شی چې د نړی پر مخ دوه هيوادونه د مذهب په نامه مينځ ته راغلی: پاکستان او اسراييل، پدی تفاوت چې يهودان يو زوړ او لرغونی تاريخ لری، ولی پاکستان کوم تاريخی موجوديت نه درلود، که پنجابيان په پنجاب کی د رنجيت سنګ د حکومت نه د خپل په اصطلاح اسلامی حکومت ته د تاريخی مبدأ په سترګه ګوری، نو بيا دا جلا بحث دی.
د همداسی غير طبيعی تشکل به نتيجه کی و چې شرقی پاکستان په ۱۹۷۱ کی د شيخ مجيب الرحمان په مشری د غربی پاکستان د جغ نه خلاص او د بنګله ديش په نامه د يوه مستقل هيواد په نامه د نړۍ پر مخ تشکل وموند.
پاکستان د سيتو او سنتو پلانونو غړی پاتی شو او تر نن ورځی پوری، وروسته د اسراييلو څخه د استعماری هيوادونو نازولی بچی ګڼل کيږی، ولی دا هغه څه ندی چې داکتر اقبال د هغی آرزو درلوده، اقبال د غربی استعمار او استثمار نه خپله کرکه پداسی الفاظو کی څرګندوی:

آدميت زار ناليد از فرنګ
زندګی هنګامه بر چيد از فرنګ

په افغانستان باندی د شوروی اتحاد د يرغل نه وروسته، پاکستان د جهادی ګندونو، جهادی ليډرانو، قوماندانانو، د افغان ولس، د هيواد سياسی شخصيتونو، اسلامی هيوادونو او نړيوالو ذيدخل او ذينفع قدرتونو د پاره، بلا تشبيه، «مکه» او د اسلام مرکز وګرزيد.
افغانی دانشمندانو لکه استاد خليلی چې استاد پژواک د خليلی د مرګ نه وروسته ورته د علامه لقب او خطاب ورکړ ، پاکستانی لوی کودتاچی ضياء الحق ته د اسلام د سپه سالار په سترګه ګوری . د استاد پژواک د خطاب په استناد علامه خليلی ، ضياء الحق ته خپل ارادت پداسی الفاظو کی څرګندوی:

شو ضياء الحق، چراغ ارزوی مسلمين
شو علمدار مسلمان، شو مهين سرباز دين
جانشين شير يزدان شو در خيبر کشا
در مقام خالدی، ميدان محشر آفرين
مسند محمود غازی شهسوار بت شکن
آنکه ميلرزيد از وی هند تا دريای چين

يو جهادی مشر وويل: چې د افغان ملت د جهاد سره د پاکستان اسلامی حمايت، نور د پښتونستان قضيه د تاريخ جزء وګرزوله.
حتا د افغانستان سياسی متفکر مغز، استاد پژواک، پدی اميد چې ګوندی د پاکستان دولت د افغان ولس د جهاد په ارتباط صادقانه موقف ولری او ممکن دی وکولای شی د هيواد د آزادی په لياره کی د يوه مؤثر شخصيت په توګه خپله تاريخی وظيفه سر ته ورسوی، پيښور ته ولاړ، خو لږه موده وروسته د ملی مبارز محمد حسن ولسمل په اخبار کی په پاکستان باندی د يوه انتقاد په اتهام، په ډيره بی عزتۍ ورته د فوری اخراج امر صادر شو. محمد حسن ولسمل هم زندان ته وليږل شو.
په ۱۹۸۲ کال کی داکتر يوسف خان متحده ايالاتو ته راغی او د کانګرس د غړو سره يی څه ملاقاتونه تر سره کړل، داکتر يوسف خان د ميشتو هيواد والو سره په کتنه کی پدی ټکی اصرار کاوه چې زموږ ملت په نړيوالو مجامعو کی خپل نماينده نلری، هيواد وال بايد زر تر ژره پدی برخه کی مؤثر او عاجل تصميم ونيسی څکه وخت ډير کم دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

خو حقیقت دادی چی ذیدخلو قوتونو د افغانستان او د افغان ملت د سر نوشت د پاره خپل تصامیم نیولی وو او نور هرڅه نمایشی خبری او مهیجه ډرامه وه.
دلته د تاند د بریښنا لیک د خپرونی یوه برخه چی زموږ د هیواد او ولس متعلق د پردی لاندی محیرالعقول واقعیتونه په جهادی دوره کی د ضیاء الحق او پاکستان د واکداری په کلونو کی څرګندوی، د وطنوالو حضور ته وړاندی کوم:
«د تایمز آف اسراییل ورځپانی د راپور له مخی، د دری لسیزو په بهیر کی اسراییل او پاکستان د افغانستان د قضیی په هکله د موقف د همنوایی او د نظامی معلوماتو د تبادلی د پاره یو له بل سره دوستانه اړیکی لرلی.
د دغه هیواد په بهرنی پالیسی کی هغه وخت تغییر راغی چی پاکستان په ۱۹۸۵ کلونو کی د شوروی اتحاد د مداخلی پر وخت له اسراییلو سره له نږدی څخه کار وکړ.
په نولس سوه اویا کال کی د فلسطینیانو پرضد له بریالیو عملیاتو څخه وروسته، پاکستانی جنرال ضیاء الحق ته د هغه د تر سره کړیو خدمتونو په ویاړ د اردن تر ټولو لوړ مدال ورکول شو.
جنرال ضیاء هغه څوک و چی هغه عملیات یی په هغه وخت کی په اردن کی رهبری کول، په دغه عملیاتو کی د وژل شویو شمیر ولس زره تخمین شوی وه.
موشی دایان د اسراییلو د حرب وزیر ویلی و: «ملک حسین په یوولسو ورځو هومره فلسطینیان ووژل چی اسراییلو به په شلو کلونو کی وژلای وای »
د تور سپتمبر نه وروسته، جنرال ضیاء د اسراییلو دولت ته ډیر په زړه پوری شخص وګرزید، په هغه مهال جنرال ضیاء د پاکستان په اردو کی یوازنی شخص و چی اسراییلو پری اعتماد کولای شو چی د پاکستان سره بنی سیاسی او نظامی اړیکی ټینګی کړی.
«ډیر احتمال لری چی د ضیاء په کودتا کی د اسراییلو استخباراتی سازمان (موساد) برخه اخستی وی. مومند»
د اسراییلو استخباراتی اداری له پاکستان سره مرسته وکړه چی د افغانستان سرحد سره نژدی افغانان په نظامی برخه کی وروزی.
اسراییلو هغه وسلی چی په لبنان کی د فلسطینیانو نه نیول شوی وی هغه پاکستان دولت او د آی اس آی جاسوسی سازمان ته ورکړل شوی، اسراییلو له پاکستان سره په ګډه، ډیر ماموریتونه تر سره کړل، ځکه چی اسراییل او پاکستان دواړه د متحده ایالاتو بنه ملګری دی.
همدارنګه جنرال ضیاء، هغه مهال ډیر کتونکی حیران کړل چی په ۱۹۸۶ کال کی ضیاء د فلسطین د آزادی سازمان ( پی ال او ) څخه غوښتنه وکړه چی یهودی دولت په رسمیت وپیژنی.
( آی اس آی ) د ( موساد ) سره مسلکی اړیکی ټینګی کړی او استخباراتی معلومات یی په پټه ( موساد ) ته ور انتقالول ....( ویکی لیکس ) راپور ورکړ چی پاکستانی تورن جنرال احمد شجاع پاشا د ( موساد ) سره په مستقیمه توګه په تماس کی وه.
په دوه زره یو کال کی ( آی اس آی ) اسراییلو ته د خلیج د هیوادونو او د ایران د زروی پروګرام په ارتباط استخباراتی معلومات ورکړل، پداسی حال کی چی د هغوی د زروی پروګرامونو په جوړولو کی په خپله پاکستانی ساینتستانو مرسته کړی وه ( دلته هغه وینا ذهن ته تداعی کوی چی: هم به نعل میزند هم به میخ . (مومند)
په دوه زره یو کال کی یو اسراییلی ساینس پوه په هغه علمی کانفرانس کی برخه واخسته چی د پاکستان د علومو د اکاډمی لخوا د پاکستان په لاهور کی جوړ شوی وه.
په دوه زره پنځلسم کال کی د پاکستان پخوانی مشر جنرال، جنرال مرزا اسلم بیک ویلی وه: چی پاکستان د اسراییلو سره هیڅ اختلاف نلری او پاکستان باید د اسراییلو په رسمیت پیژندلو کی تردد څرګند نکړی.
جنرال مشرف هم له اسراییلی اخبار ( هارتز ) سره پخپله مرکه کی ویلی وه چی: «اسراییل یو په شا نه تلونکی دولت دی »
زما تبصره: ( د پورتنیو حقایقو نه څرګندیری چی زموږ په اصطلاح مقدس جهاد په حقیقت کی د « سی آی ای » او«موساد» جنګ و د «کی جی بی» سره، خو د دی بزکشی میدان افغا نستان و چی زموږ هیواد په کی لکه هیروشیما او ناګاساکی د جګړو په اور وسوځید او ملت مو په کی تباه شو. دلته د لوی مفکر او انقلابی شخصیت مرحوم سید حسن خان حسن چی د محمد ګل بابا نژدی ترین دوست او سیاسی ملګری و، یو شعر د الفاظو په تغییر سره تضمین کوم:

امریکا او اسراییل په کی خانان شو

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د افغان ولس لاړی ارتینی په کی
ښی ښکلی سینی په کی

پورتنی حقایق په ډاګه څرګندوی چی زموږ مقدس جهاد د پردی لاندی په پوست پاک نه و. د تبصری ختم)
نن ورځ په هیواد کی مفسد سقاوی اقلیتونه، عناصر او اقتصادی او سیاسی قدرتونه لکه: د پنجشیر د زمرد فروشانو شوری او د شمال شیطانی او سرطانی اتحاد چی له ایران، متحده ایالاتو، پاکستان او روسیې لخوا په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه حمایت کیږی او د هیواد نه یی عملا پنجشیرستان او مزارستان جوړ کړی، پدی اوتو بوتو چی پاکستان یو اتومی قوت دی او قوی اردو لری، غواړی چی د پښتونخوا د ستر ولس په سر سیاسی تجارت وکړی او د دیورند استعماری کرښه په رسمیت وپیژنی.
زموږ په هیواد دا مکروبونه او ضد ملی خارجی مزدوران چی ځان ته افغانستانیان وایی، د ډار او ویری علتونه څرګند دی. دا مفسدین فی الارض والسماء په منطقه کی د یوه پښتنی مستقل دولت د تأسیس نه سخت په ډار کی دی او په همدی موازاتو کی چی امکان لری یوه ورځ د دیورند کرښه له مینځه ولاړه شی او لر او بر افغان سره یو ځای شی، دا د خپل کاذب اعطاء شوی سیاسی او اقتصادی سیادت او تاجک فوق همه شعار، د لاسه ورکولو په ارتباط د زهرو نسخه بولی.
د تاجک او پنجشیری د فوق همه شعار پلویان وایی ولی پښتانه د پنجده د خاوری د استرداد په ارتباط خپل ږغ نه جګوی؟
جواب دا دی چی پښتون تباره ملی زعیم او قهرمان غازی امان الله لمړی افغانی شخصیت و چی د پنجده قضیه یی د سیاست په بستر کی د شوروی دولت سره جی یو لوی جهانی نظامی قدرت و، مطرح کړه او څه توافقات هم لاس ته راغله، ولی مقابلتا زموږ سوال د شورای نظار او اتحاد شمال څخه دا دی چی څه وخت د جهادی دوره نه وروسته دوی قدرت ته ورسیدل، د دوی تخیلی قهرمان فاتح افشار احمد شاه مسعود او وطنی رنجیت سنګ بحران الدین ربانی، د پنجده د استرداد قضیه ولی مطرح نکړه، دی بی ننګو څهار پدره مزدورانو  پنجده خو څه کوی، د یو نیم ملیون شهیدانو خون بهاء یعنی غرامات جنګ یی هم خپل سیاسی بادار پوتین ته ور وبخښل.
بیرته راځم خپل مطلب ته چی څه وخت احمد شاه مسعود او بحران الدین لعنت الله علیهم د سردار داؤد خان په دوره کی لکه ګیدړو، د افغانستان عنعنوی دشمن پاکستان ته وتښتیدل او د پاکستان د آی اس آی پړی او وندر د دوی په غاړه کی واچول شو، له هغه دمه تر دی دمه، د پاکستان سیاسی حمایت د ځان د بقا د پاره د ژوند او مرګ قضیه بولی او په همدی لحاظ غواړی د یوه بحری کوریدور په بهانه او بدله کی د دیورند کرښه په رسمیت وپیژندل شی او د پنجاب د حکومت ابدی حمایت تر لاسه کاندی.
پاکستان ممکن دوه یا دری اتومی بمونه ولری، خو د دی اتومی بمونو لرل صرف د عنعنوی دشمن، هندوستان سره د یوه نظامی قوت او سیالتوب مظاهره ده.
که پاکستان دوه بمه ولری، د اسراییلو د اتمی بمونو تعداد د دوه سوه شا او خوا کی اټکل کیدای شی، اسراییل په منځنی ختیځ کی د متحده ایالاتو د دولت او د دواړو لویو سیاسی دیمکرات او جمهوری خواه ګوندونو په علی السویه صورت د بی شرط او قیده حمایت او اقتصادی، سیاسی او نظامی بیدرغو مرستو په اعتبار، قوی ترین سیاسی او نظامی قوت او قدرت بلل کیږی، ولی د اسراییلو دا ټول جهنمی قوت او قدرت د فلسطین د ملت او وګړوملی او  تاریخی هویت زایل نکړ او د فلسطین د ملت مبارزه د یوه خپلواک هیواد د لرلو په درشل کی ده.
د پنجاب ټول عسکری او نظامی قدرت د دی توان نلری چی د پښتنو او بلوڅو ملی هویت ته خاتمه ورکړی او یا دا چی خپله اتومی وسله د افغانستان پر ضد استعمال کړی.
په پاکستان کی په ۱۹۵۵ کال د محمد علی بوګره په واسطه د اداری وحدت د پاره، (خو په سیاسی لحاظ د پښتنو او بلوڅو د ملی روحیی او ملی هویت د کمزورو کولو د پاره) د «یو یونټ» شیطانی پلان راووت، پدی مفهوم چی شرقی بنګال یو اداری واحد وګرزید، بلوچستان، صوبه سرحد، سیند او پنجاب مغربی پاکستان شو. چی دا نظام هم د پاکستان واحد موجودیت، تضمین نکړ او شرقی بنګال، د بنګله دیش تر نامه لاندی له پاکستان څخه جلا شو.
اوس به راشو د بحری «کوریدور» شرم آوری ضد ملی او ضد ناسیونالستی تبادله، د کوزی پښتونخوا د خاوری او ستر ولس سره . تاریخ به په داسی تبادله پر موږ لعنت وایی اود داکتر اقبال وینا به صدق وکړی چی فرمایی:

دهقان و کشت و جوی و خیابان فروختند
قومی فروختند و چه ارزان فروختند

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که زموږ هیواد د سلو کلونو راپدی خوا د بحری کوریدور پرته، د داؤد خان د جمهوریت تر اخره پوری خپل استقلال او ملی موجودیت او نړیوال حیثیت وساته، باور لرم زموږ هیواد او ملت به د یوه ملی دولت د تشکل سره د ذکر شوی اقتصادی کوریدور پرته سل کاله نور هم خپل ملی موجودیت او با وقاره ملی او نړیوال حیثیت مظبوط وساتی . اقبال وایی:

ای خوش آن جوی تنک مایه که از ذوق خودی
در دل خاک فرو رفت و به دریا نرسید

پاکستان به یوه ورځ د خپل اتومی بمونو با وجود متلاشی کیږی، خو افغانستان به خپل تاریخی عظمت د « آب رفته باز آید به جوی » دمقولی په مصداق تر لاسه کوی او په منطقه کی به څنګه چی علامه اقبال ویلی وه د ایشیا د زړه حیثیت، د تل لپاره وساتی. ما د علامه اقبال شعر په ملی اکثریتی ژبه داسی اړولی وه:

له اوبو او ختو جوړه ایشیا ده
د افغان ملت یی زړه او هم یی ځا ده

اوس به وروسته له پورتنیو توضیحاتو څخه راوګرزم د دی لیکنی د عنوان « پاکستان مرده باد » فلسفی ته.
د مرحوم شاه محمود خان صدر اعظم د حکومت دوره و، زما مرحوم پلار په قندوز کی حکمران و او زه تقریبا د پنځه کالو په عمر وم.
پاکستان نوی تأسیس شوی وه ، د پیښور د رادیو څخه یو پشتو پروګرام خپریدو او پدی پرو ګرام کی به دوه ډیر تکړه خبر لوڅو نطاقانو د پاینده خان او شاه پسند خان په نامه هره ورځ برخه اخسته.
څه وخت چی به د پاینده خان او شاه پسند خان مرکه پای ته ورسیده، دواړو به په یوه آواز وویل: «پاکستان زنده باد»، په مجردی چی ما به د دوی دا شعار واوریده، ما به فوراً وویل:

« پاکستان مرده باد »

دا چی زه څنګه او د چا د خوانه په پنځه کلنی کی داسی تلقین شوی وم چی ووایم پاکستان مرده باد، دا نو زما ندی په یاد، ولی دا خبره کوم شخص، سردار محمد داؤد خان ته چی په هغه مهال د حربیی وزیر و، رسولی وه چی د قندوز د حکمران پنځه کلن زوی داسی وایی.
څرنګه چی سردار محمد داؤد خان د کوزی پښتونخوا، د پښتنو د سیاسی سرنوشت سره د ملی احساس له مخی ډیره علاقه مندی درلوده، نو سردار صاحب زما د تشویق او نوازش د پاره د پښتونستان مخصوص یو نشان را ولیږه، دا نشان د پوهنتون د دوری پوری ما پخپله سینه تومبه.
زه اوس د خپل عمر په آخری پړاو کی یو ځل بیا په افتخار وایم :

(پاکستان مرده باد)

تذکر: د تایپستی او املایی نیمګړتیاو معذرت غواړم، همدا راز د خپل پخوانی ملګری رحمت زیرکیار نه مننه کوم چی د دومنیون او یو یونت اصطلاحات چی مانه هیر شوی وو، د ایمیل په ذریعه ماته روښانه کړل. بنې چارې زیرکیاره!

ختم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ